Kandahar. Kabul
Vol.11, No.1, Hamal 1349
(March 1970)

کندهار



په مزار شریف کی د شاه ولایتمآب مبارکه روضه چی د افغانستان
د مقدسو او تاریخی ځایونو څخه ده اوتل د نوی کال دوری په
لومړی ورځ سم له معمولو تشریفاتو سره د ګران هیواد
د ډیرو خلکو په ګډون جنډه په کښی پورته کیږی
په پورتنی عکس کی د جنډی د پورته کولو د مراسمو
یوه منظره لیدل کیږی

کندهار

۱۳۴۹ لمریز کال دوری میاشت

د کندهار

دمجلې پوولسم
نشراتي کال

څرنګه چې مطبوعات دخلکو
د ذهنیت د روښانولو په لیاره کې
مهم رول لري او د بشري جامعې
دملي ارادو ښکارندوي بلل کیږي
نو پدې اساس ویلاشو چې د ذلت
او خواري مشکل خنډونه پدې
وسیله له منځه ځي د آینده باسعادته
او مرفه ژوند لپاره زمینه مساعده

وي او هم د فضیلت نخښې په ټولنه
کې پیدا کوي څو د اجتماعي
عدالت د تامین په پلوشو کې خپله

تکاملي بڼه غوره کړي او هم
له دغې لیاري هره ټولنه کولای
شي چې د هر وخت او زمان د
ایجابا تو سره سم د ژوندانه د
سمون په غرض د خپل هیواد
اقتصادي، سیاسي او اجتماعي

چارې تقویه کړي او پر مخ ئې
بوزي او همدارازهغه نیمګړ-

تیاوې چې په ټولنه کښې
موجودې دي له دغې لیاري څخه

اصلاح او جامعې ته د انکشاف
پرلور حرکت ورکړي

زمونږ ګران هیواد
چې او س د پرمختګ انکشافي
سیر تعقیبوي او خپلې

نیمګړتیاوې د پوهې
له لیاري دمټه په قدرت د

عصر د ایجابا تو سره سم
بشپړوي او متبوعه حکومت

د هغو خاصو علایقو له مخې
چې د هیواد والو د ذهنیت
د روښانه کولو سره ئې لري

نو ځکه ئې د هیواد والو د
افکارو د تنویر په ملحوظه
پدې لږموده کې په مرکز

او ولایاتو کښې دمجلو،
اخبارو، جرائدو او نورو پاڼو

د خپرونو وزیاتوب ته خاصه
توجه راګرځولې ده .

د کندهار مجله چې د
نوي کال په شروع سره خپل
لسم «۱۰» نشراتي کال بشپړوي

او د دغې ګڼې په خپرولو

سره پخپل پوولسم نشریاتي
کال پیل کوي اداري د خپرن

وس په اندازه زیار ایستلې
دي چې د ښاغلو لوستونکو
لپاره په زړه پوري موضوعات

خپاره کړي خدای [ج] دي
وکړي چې د مقتضي سره سم

مو د لوستونکو د ملي
آرزوګانو د سرته رسولو

په لیاره کښې لږ او ډیر
ارمانونه ترسره کړي وي
تر دي وروسته بیاهم د

پرسونل د تکمیلیدو په صورت
او د ښاغلو لیکوالو په

ملګرتیا او د ادب د خاوندانو
د قلمي مرستې په ګډ کوښښ

سره هغه موضوعات چې
د ژوندانه په شئونو کښې د

کندهار د مجلې د لوستونکو
توجه جلبوي تهیه او خپاره
کړو .
هغو ښاغلو لیکوالو ته چې
تر اوسه پوري ئې زمونږ سره

قلمي مرستې کړي دي کور
و دانې وایو او خپل

د امتنان مراتب ودوي ته
وړاندي کوو او د زیاتې
قلمي همکاري هیله ئې کوو

دکندهار مجله دنوی کال دراتلو پـه مناسبت سره خپل گران
ټولواك معظم همایونی اعلیحضرت اودګران افغانستان
ولس ته دزړه له کومی مبارکی وړاندی کوی

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 APR 2005

دامتیاز خاوند: د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
مسئول مدیر: زلمی (بارک)

کندهار
میاشتنی خپرونه
تاریخی، اجتماعی، علمی، ادبی
اداره: د شهیدانو واټ
د تاسیس کال ۱۳۳۹
د یوولسم کال لومړی ګڼه
پرله پسی ګڼه ۱۱۵

کالنی بیه
په کندهار کی [۲۸] افغانی
دهیواد په داخل کی [۳۲]
په دباندنیو هیوادو کی یوډالر
۱۳۴۹ لمریز کال

ددې ګڼې مضامین

د کندهار د مجلی یوولسم نشراتی کال د پشتنی دوهم مخ
له شعره څه غواړو؟ ۱ مخ
د اسلامی عصر د تاریخ یوه پاڼه ۲ مخ
یوولس تاریخی پیښی ۶ مخ
دهیکل په وره کی ۷ مخ
طبابت د انسانانو په نظر کی ۸ مخ
ریالیزم ..... ۱۰ مخ
د نړی په مختلفو اولسو کی چی کال نوی .... ۱۱ مخ
د ادب وژمی ..... ۱۴ مخ
د کندهار هغه نادره شعراء چی د زمانی په مختلفو ۱۶- مخ
پسرلیه ښه راغلی ..... ۲۰ مخ
ادبی برم څه سو؟ ..... ۲۱ مخ
د هند موسیقی ..... ۲۳ مخ
د هند د نقاشی لرغونی هنر ۲۵ مخ
الکساندر پوشکین ..... ۲۶ مخ
د تلیفون په واسطه تدریس ..... ۲۷ مخ
موقتی مور ..... ۲۷ مخ
د نړی د لویو آبشارونو پوالی ..... ۲۸ مخ
نقاش ته د پشتنی د ریم مخ

تقریظ

دلمر علمی ، ادبی او اجتماعی میاشتنۍ مجله چې د مطبوعاتی انکشافی بکتور پلان په سلسله کښې ئې د یوې ډلې پوهو لیکوالو تر کتنې لاندې د کمال د نوې کیدو سره سم په خپریدو پیل کړې دی د مضامینو د غوره والی ، ثقافت او صحافت د مزایا او د لرلو له حیثه د ډېرې ستاینې وړ ده .

د کندهار مجله په مطبوعاتی نړۍ کښې د دې علمی مجلې خپریده یود قدر وړ کار بولی او د کار کوونکو موفقیت ئې تر پایه پورې په همدغه ډول سره غواړی .

[اداره]

له شعره څه غواړو؟

له کوم وخته چی وطن
ته د علم او معارف د پراختیا
له اثره فکری نهضت راغلی
دی هر ځای او په هره ټولنه

کی په زیاته بیا د پوهانو
په مجلسونو کی ادبی او
علمی څیړنی کیږی چی ډیر

ځله ښی علمی او معقولی
نتیجی هم لاس ته راځی .
یوه له هغو موضوګانو
څخه چی د پوهانو فکر ئی
ځانته راجلب کړیدی هغه

د شعر او شاعری موضوع
ده .
موږ دلته د شاعری د
پیدایښت د څرنګوالی سره
څه کار نلرو اما دیوی خبری

ډول لازم ګڼو چی ووایو
شعر د زړه ترجمان او د
نفسی هیجاناتو ښکارندوی

دی او دا قریحه له کوم وخت
راهیسی چی انسان په موجود
صورت او هیولا سره د مځکی

پر سر په ژوند پیل کړیدی
ورسره ملګری او د لاری
مل ده .
د بشری ټولنو له مطالعی

څخه دا حقیقت څرګندیږی چی
د لومړنیو انسانانو په زمانه کی
شعر یوازی او یوازی د باطنی
دردونو او نازکو احساساتو

ښکارندوی د مینی او محبت قاصد
د ښیست او ښکلاخورا ښه تصویر
او مظهر و اما کله چی د ټولنو

شیرازه ټینګه او اجتماعی
قدرتونه منځ ته راغلل شعر او
شاعری خپله بڼه واړوله او د خپلی
اصلی مجری او لاری لیکی څخه

واوښت د لته شعر او شاعری د
شخصیت پرستی په دوک اخته
شوه او د زور ور طاقت د مقاصدو

د پر مخ بیولو د پاره استعمال
شوه د دې عصر د ادبیاتو د تاریخ
د لوستلو څخه دا خبره ښکاره
ده چی د نړۍ په ټولو هیوادونو کی

په زیاته بیا په لمر ختیزه کښی
شاعری د زرو په ښایښتو او لوړو
ماڼیو کښی اسیره او استخدام
وه . او لکه مقیده بلبله د خپل

اصلی ټاټوبی د لیدو څخه محروم
او بی نصیبه وه خو د زمانی د
تیریدو او د اجتماعاتو د ترقی او
تکامل سره سم شاعری هم وخت

په وخت خپله بڼه الیشه کړه
او دا تجدد او تحول تر ټولو
د مخه په هغو هیوادونو

کی پیښ شو کوم چی د مخه
د زمانی جرس بیداره کړل
او په شرقی هیوادونو کښی
څرنګه چی د ویښتوب روح

لږ لیدل کیدی هغه وو چی
د دوی د شاعری زړی ماڼی
نوی رنګ پیدا نه کړ او ادب

ئی د قسو دا لږم له غولی
څخه د حریت او انکشاف
واورشو ته راشیوه نه شو
همداسب دی چی او سنی

منورین او د ادب نقادان د
شرق شاعری د ټولنو د
ویښتوب او نهضت منافی

او د انحطاط عامل بولی او
دیوی داسی شاعری د
پیدا کیدو انتظار لری چی
هغه ضمیر بیداره او عقول

د ترقی او نهضت د پاره
راوپاڅوی چی شاعری استعمال
او له خپلی اصلی بڼی څخه
ئی راواړوی او د اجتماعی
ژوند تصویر او هنداره ئی
وګرزوی څرنګه چی دا فکر ✡

دښاغلی ع - ن ترجمه:

د اسلامی عصر د تاریخ یوه پاڼه

په افغانستان کی

مسلمانان دلمړی خلیفه دخلافت په زمانه کی دخلیج پارس و څنډوته ورسیدله او دوهم خلیفه په زمانه کی ئی د پارس په ګرده یاستان ملك باندی برې پیدا کی یعنی د اسلام د مدنیت او مبارك دین په وړانګو سره ګرده خوراسان په دغه وخت کی وړانګن شو .

په درویشتم هجری کال کی عبدالله بن عمر (رض) پر سیستان باندی په یوه برید سره برې پیدا کی او ددریم خلیفه په زمانه کښی د پارس آخرینی پاچهان په قتل ورسیدله بیا نو د هرات او بلخ تاریخی ښارونه فتحه شوه پدی ځای کښی د مسلمانو د زیات مقاومت آود مقابلو طرفو د جنګ د زیات اشتعال له حیثه څخه یوله دغو لویو ښارو څخه و نړیدی .

په یو دیرشم هجری کال کښی احنف بن قیس د قطغن وبد خشان ښارونه ونیوله په څلور څلویښتم هجری کال کښی د کندهار فتح پای ته ورسیدله اماد

✡ د جامعی د خیر آود انسانانو دښوالی د پاره پیدا شوی دی نو ځکه موږ د شاعری د استعمال ښه او تر اصلی مجرائی خو ندور او ګټور بولو .

خو زموږ په محیط کی ځینی داسی کسان هم شته چی هر شعر ته په سپکه ګوری یوله دې کسانو څخه زما یو محترم ملګری دی چی تل شعر او شاعری غندی او د ټولنی د انحطاط علت ئی بولی یو وخت ماورته دښه شعر تعریف وکړی او د هغه ترمزیتو وروسته می دښاغلی [رشاد] د اخو بیتونه ورته وویل :

خدایه ستا په ړنګ جهان کی چی ودانی بنګلی دی
د معمار دلاس تها کی د مزدور تودی خولی دی
دا په بن کښی چی ګلونه بهارونه تری سازیږی
د باغوان دزړه په وینو آبیاری مومی غوړیږی
مګر واك د بوئید وئی په قسمت د باغوان نشته
د غریب سړی تا ته وبی ستا پر مځکه آسمان نه شته

ملګری په غبرګون کی راته وویل چی د اشعر نه دی حکمت دی . د دې ملګری پ نظر کی شعر باید د بشری ژوند ارمانجنه خواوخیږی او شاعر باید د اجتماع وتل ته ورننوزی او په رښتنی ډول د هغه عکاسی وکړی یعنی شاعر باید سیاست مصور وی او د ژوندانه پر ټولو اړخونو د اسی وړانګی واچوی خو هرشی په خپل اصلی حالت او محل کښی ځان وښئی او خپله حقیقی بڼه ښکاره کړای سی .

خو تو پیر د حق و باطل د تورو سپین د ښو او بدوشی . که چیری د اکارزموږ شاعر یا لیکوال وکړای شی نو دا به د ده لو یه کا میابی او پخپل عصر کی ستر بریالیتوب وی

او د هغه هیله ده چی موږ ئی د شاعر څخه لرو او زمانه د دې فکر استقبال کوی .

[ښاغلی ا-م کرزی]

دولایاتو د اطلاعاتو او کلتور مدیران د مطبوعاتو په وروستی سیمینار کی د کابل د موزیم د کتنی په وخت کی هغه لوی ډبرین دیګ ګوری کوم چی د جلال الدین محمد په واسطه په ۹۱۹ کښی حکاکی شوی او د کندهار د زاړه ښار د نارنج د قصر له کنډوالو څخه چی د میرویس نیکه اوغلجی پاچهانو د حکومت مرکز وو پیدا شوی دی

مګر په عین حال کښی ئی د تبلیغو او د اسلام د مبارک دین د تشهیر سلسله جاری ساتله همدغه سبب ؤ چی ډیر ژر پښتانه د بت پرستی له باطلو عقیدو او یا له موهومو استبدادی افکارو څخه چی د حریت تحفظ په کښی نه ؤ راوګرزیدله او د توحید پرپاکه لار باندی رهی شوه دا نو هغه زمانه وه چی د امویانو د سلطنت کمبله ټوله شوی او عباسیان د پښتانه ابوالمسلم المروزی الخراسانی په کوښښ او میړانه سره د خلافت و تخت ته جګ شوی وه د دغه نامتو میړه د توری او دفاع تاثیر ؤ چی د عباسی تولورکانو پر پښتنو باندی بشپړ اعتماد پیدا شو او دوی ته ئی د بغدادیانو نورو ځایو په لښکرو کی لوړ منصبونه ورکړه چنانچه د بلخ د برامکه ؤ لوړ خدمتونه او جګی چوکی

زما د دې مدعا ښکاره مثال دی که څه هم ایرانیان دا کورنی وځانو ته منسوبوی مګر حقیقت داسی نه دی دوی اصلا د بلخ پښتانه وه چی اوس هم دغه ښار د افغانستان په سیاسی حدودو کی شمولیت لری بل

د کابل او سیدو نکو تر اموی زمانی پوری د اسلامی لښکر په مقابل کی و مقاومت ته دوام ورکی د لمړی هجری

پیړی په اواخیرو کی کاشغر او ماوراالنهر فتح شو بیانو (۱۰۷) هجری کال کښی د بلوچستان په نیولو پیل وشو او د دې ناحیی ټولی علاقی د خراسان په حکومت پوری مربوطی شوی، دی

ادغام پر پښتنو باندی چی طبعاً آزادی غوښتونکی او د لوړو احساساتو لرونکی

دی بد تاثیرو کی او هری خواته د بغاوت اورونه بل شوه له یوی خواڅخه ابرا بلخی خلق و جنګ ته وپارونه له بلی خواڅخه فارن هراتی

او راتبیل کابلی د خپلو خلقو په قیادت سره د بغاوت علمونه پورته کړه د غو

مناقشو د لمړی قرن تر نیمی پوری دوام درلود څو په پای کښی د عربو مرکزی حکومت مجبور شو او د

مصلحت له مخی ئی د افغانستان داخلی استقلال مانه یعنی صرف د دوی د جزوی خراج په ورکړه سره اکتفا وکړه

سړی چی پرته له ابوالمسلم مروزی څخه د پښتنو یا عربو په تاریخ کی لوړ مقام او حیثیت لری طاهر فوشنجی دی چی د منصور له خوا څخه د خراسان والی ؤ او بیایی په کورنی کښی دا دنده میراثی شوله سوایی دی لوړ شخصیت د خپل ډیر نفوذ او اطمنان په اثر سره

تر دې اندازی پوری اقتدار پیدا کی چی د خلیفه نوم ئی په ښکاره ډول سره د جمعی دورځی له خطبی څخه ووآهه او ځانته ئی دیوه مستقل حکومت ډمامه وډنګوله چی دغه استقلال او امیر توب ئی تر ډیری زمانی پوری په کورنۍ کښی با دوامه پاته شو چی تاسی به ئی بیان په مجمل صورت سره په لاندنیو کرښو کښی ولولی .

((۱)) طاهریانو کورنۍ

دې کورنۍ د خپلی پاچهی په زمانه کی چی ۲۰۵ هجری سنی څخه یی بیا تر ۲۴۹ هجری سنی پوری دوام درلودی د اسلام د مدنیت او دین د تشهیر په لار کی داسی ستر خدمتونه وکړه چی توصیف ئی زمامات قلم او د تاریخ پاڼی نشی کولای د پاچهانو نومونه ئی دادی:

[۱] طاهر بن حسن په ۲۰۵ هجری سنه کی ټولواک ؤ .
[۲] طلحه بن طاهر په ۲۰۷ هجری سنه کی ټولواک ؤ .
[۳] عبدالله بن طاهر په ۲۱۳ هجری سنه کی ټولواک ؤ .
[۴] طاهر بن عبدالله په ۲۲۰ هجری سنه کی ټولواک ؤ .
[۵] محمد بن طاهر تر ۲۴۸ هجری سنی پوری حکمرانی وکړه .

((۲)) د صفاریانو کورنۍ

صفاریان چی اصلا د پښتنی سیستان او سیدونکی وه له ۲۵۲ هجری سنی څخه ئی بیا تر ۲۹۱ هجری سنی پوری په خراسان کښی یو مقتدر حکومت چی مشتمل پر خود سیستان، زابلستان، کابلستان، بلخ تخارستان، او سنی خراسان، کرمان طبرستان او خوزستان باندی ؤ

تشکیل کی دا کورنۍ د اسلام د دین او مدنیت په خپرونه کښی د طاهریانو تر کورنۍ کمه نه وه د دریمی هجری پیړی په اواخر وکی ئی خپل اماکن و خپلو بلخی وروڼو ته چی د سامانیانو په نامه سره یادیدله پریښوله د پاچهانو نومونه او د سلطنت تاریخونه ئی دادی:

[۱] یعقوب بن لیث چی په ۲۵۴ هجری سنه کی پاچاؤ

[۲] عمر لیث چی په ۲۶۵ هجری سنه کښی پاچاؤ .

[۳] طاهر بن محمد عمر چی له ۲۷۸ هجری سنی څخه ئی بیا ۲۹۱ هجری سنی پوری حکومت قایم وو .

د سامانیانو کورنۍ

سامانیانو له ۲۹۵ هجری سنی څخه پاچهی وکړه د کورنۍ مشر ئی اسد بن سامان نومیدی چی له سامون سره په مروه کښی نوکرؤ کله چی ئی نوموړی بادار وروسته د پلار تر مرګ وپاچهی ته ورسیدی نو دی ئی د خراسان حاکم کړ پسله مرګه څخه ئی ورور اسماعیل نومی په بخارا کی د خپل حکومت جنډی پورته کړه او لمسی لفر نومی ئی وروسته تر یرغل او تسلط د ماوراالنهر په سمرقند کی د پاچهی اعلان وکی خو بد بختانه چی ژر مرګ پر راهله کړه

اوددهد حکومت واگی هم
اسماعیل په خپل لاس کښی
واخیستلی بیائی نو خپل
ځان د سلطان په لقب سره
وخلقو ته معرفی کی گویا
لدی ځایه څخه ددې کورنی
د پاچهی سلسله شروع کیږی
او څلورم هجری قرن تر
پایه پوری ئی دوام پیدا
کړی پسله هغی څخه ئی
بیا دلاسه وزی او ملک ئی پر
دووحصو باندی تقسیمیږی
پر ماوراالنهر باندی ایلک
خانان سلطه پیدا کوی نوره
جزوی برخه ئی پارس او
کلی ئی وافغانستان ته په
تقسیم کښی رسیږی چی د
غزنویانو حکومت پرهغه
باندی قیام پیدا کوی
آخیرنی پاچا د سامانیانو
عبد الملک ثانی نومیدی
چی په ۳۹۸ هجری سنه کښی
ئی پاچهی وکړه

٤- د غزنویانو

کورنی

اساس د دې سلطنت
الپتکین نومی چی د مخه
تردی په بلاطکی د سامانیانو
له طرفه والی ؤ ایښی دی د
امیر نوح سامانی په زمانه کښی
ودغه شخص ته د دفاع در ئیس لوړ
لقب ورکړه شو او مقر داستوگنی
ئی نیشاپور شو، وائی د وظیفی
په دوران کښی ده د پاچهی خیالونه
په سر کی درلوده په همداغه
اساس سره په ۳۵٦ هجری سنه کی
له خپل اصلی ځایه څخه راغی او
په غزنی کی ئی د مستقل سلطنت
ډمامه ووهله خوارمان چی مرگ
مهلت ورنه کی او خورا ژر ئی
پر راهله کړه پر ځای باندی
سبکتکین نومی زوم کښینستی او
دده طرح کړی نقشه ئی په خپلو
فتو حاتو کښی پرمخ بوتله په
بیخی چټکی سره ئی پر کابل او
دهغه پرشاو خوا علاقو باندی
بشپړ تسلط او اقتدار پیدا کړی
په دې وخت کی ئی له یوی نجیبی
کورنی څخه یوه ښکلی نجلی
په نکاح کړه چی د افغانستان
مشهور فاتح سلطان محمود
غزنوی ورڅخه پیدا شو او وروسته
د سبکتکین تر مرگ ئی د پاچهی
واگی په لاس کښی واخیستلی
دی مدبر قاید او زړه ورزلمی په
په خپله مدبرانه توری سره د

سلطان محمود غزنوی

جیحون له سیند څخه بیا د
عمان تر بحیری پوری او
خوارزم له ملکه څخه بیا
تر ډیرو لیرعلاقو پوری ملک
پراخ او د اسلام مبارک دین
ئی خپور کی، د سومنات
فتح ئی له هغو فتو حاتو
څخه ده چی په تاریخ کښی
نظیر نه لری.

٥- د غوریانو

پاچهی

غوریان هغه قدیم قوم
د پښتنو دی چی د فیمروز
کوه په شیلو کښی ئی د
ملوک الطوایفی په صورت
سره حکومت کاوه او تر پایه
پوری د غزنویانو ته ایل
نه شوه.

سلطان غیاث الدین غوری

[علاوالدین غوری سره له لښکر ناڅاپه پرغزنی باندی برید وکی مګر په لومړۍ پلا کښی کامیابه نشو او په دوهمه پلا کښی ئی ټوله غزنی قبضه او د غزنویانو مقتدر حکومت ته ئی ماته ورکړه پسله هغی څخه ئی نو دهند په حملو پیل وکی په لمړی پلا کښی ئی پایتخت فیروز کوؤ بیا ئی وډهلی او لاهور ته نقل کی د حکومت په آخرینو څپ - څپاندو ورځو کښی یی ملك پر دوحصو باندی وویشل شو او دهند حکومت له افغانستان څخه پرمخ ټوله او د اسلام مبارك دین بشپړ تعمیم پیدا کی د باختری هروی او سانسکریتی ژبی پرځای عربی ژبه ترویج او معمول شوه تعلیم او تعلم یی اصلی غایه د ژوند وګرزیدله خورا ډیر کتابونه د پښتنو مولیفنو له خوا په کښی ولیکل شوه چی موږ یی دخپلی مدعا د ثبوت په ملحوظ نومونه دلته ستاسی لپاره لیکو :

[١] حکیم ابو نصر فارابی [٢] بوعلی سینا بلخی [٣] العلامه البیرونی [٤] عالم الفلك ابو معشر بلخی [٥] الحکیم ناصر خسرو بلخی [٦] امام اعظم ابو حنیفه کابلی [٧] الامام احمد حنبل المروی [٨] مولوی جلالدین بلخی [٩] سنائی غزنوی [١٠] خواجه عبدالله انصاری الهروی [١١] عمر الخیام الکردی [١٢] عبدالملك الجوینی ١٣ الامام احمد الغزالی [١٤] الامام محمد الغزالی [١٥] ابوالفتح بستی (١٦) احمد میمندی . (پای)

د باندنیو منابعونه

د «انورزی» ژباره

یوولس تاریخی پیښی دنړۍ په یوولسو ښارونه کی

١: د بغداد په ښار (عراق) کی د عباسیانو خلافت د هلاکو خان له خوا د منځه ولاړ په «٦٥٦» هجری

٢: د فیلادلفیا په ښار (امریکا) کی د متحده ایالاتو اساسی قانون تصویب شو (١٧٨٧) میلادی.

٣ : د میلان په ښار کی «ایټالیا» کی د عیسوی دین د قسطنطین رومی امپراطور په فرمان آزاد او رسمی سو «٣١٣» میلادی

٤ : د پاریس په ښار «فرانسه» کی ناپلیون بناپارت د فرانسی امپراطوری ته ورسید (١٨٠٤) میلادی

٥: د تبریز په ښار «ایران» کی شاه اسمعیل صفوی د صفویانو تاریخی سلسله تاسیس «٩٠٧» هجری

٦: د قسطنطنیی په ښار کی (ترکیه) کی د شرقی روم دولت د عثمانی فاتح امپراطور سلطان محمد لخوا د منځه لاړ «١٤٥٣» میلادی .

٧: د لندن په ښار «انګلستان» کی د انګلستان د مشروطیت قانون منځ ته راغی (١٢١٥) میلادی .

٨ : د ماسکو په ښار (روسیه) کی د ناپلیون بناپارت د ماتی د پاره نو موړی ښار ته د روسانو لخوا اور واچول شو (١٨١٢) میلادی .

٩: د هیروشیما په ښار (جاپان) کی د جاپان د ماتی د پاره لومړی اټمی بم استعمال شو ١٩٤٤ میلادی

١٠ د ډهلی په ښار (هندوستان) کی هندی محمد شاه د سلطنت تاج و نادرشاه افشار ته سوغات ورکړ ١٩٥١ هجری

١١: د سانفرانسیسکو په ښار امریکا کښی د ملګرو ملتونو نمایندګانو د لومړی ځل د پاره سره غونډه په بین المللی د وهمه جګړه کښی افتتاح سوه او پدی ترتیب د ملګرو ملتونو موسسه منځ ته راغله (١٩٤٥) میلادی

د المقتطف عربی مجلی څخه

دنباغلی نجیب ترجمه

دهیکل په وره کی

§

اوس په حقیقت سره زماشو نلوان په مقدس اورسره پاك شوه ولی چی دحب خبری می پر خوله باندی نه راځی او بل دوازیدو په حال کی ئی ځان ګونګ راته ایسی آیا تاسی دحب آرپیژندنی وړاندی اویادهغه سړی په ډول چی نغمی ئی دخبرکی په ځیرسره وی اودچول وهلی تری غوندی ئی الفاظو تحول میندلی وی دویناو د رک کړی دی؟

ای خلقو زما څخه دحب دعجا ئیبو اوغریبو نورحال مه پښتی ولی چی دسختیو هارئی زما په غاړه کی یووار لو بدلی اود باطنی اورتوبش ئی سینه راسوی ده زه ستاسی څخه دهغه چا څرك غواړم چی په حب کی راسره برابروی چی زه ده ته اودی ماته زړه رابنکاره کی هلی ژرکوی ددې لمبی په حقیقت می پوه کی دا څرنګه لمبه ده چی دسینی په اعماقو کی ټولی قواوی سوځی پاځیدلی دهیکل امیال له یوه مخه څخه ویله وی دا څرنګه قوی لاس دی چی سړی ئی نه وینی مګردی دلذت په تلخکی او یادحلاوت په دردسره ګلوشوی شراب دکبد په کومی کښی تویوی اوپه دغه مرموزه قوه سره په سینه کښی روح له بدن څخه کاږی دا څرنګه پسرورو زرونه دی چی دشپی په تروږمی اودخوب په چوپایی کښی دخوب دځای برچادر باندی سرپول کیږی مګردستر ګوخلاصولی په حال کښی ئی بیا پته نه وی سبحان الله دا څرنګه قوه ده چی مفکر ئی نسی فهمولای نه ئی پوندلیدلای او نه یی شنوانغوږلای شی وتاسی ته دی دامعلومه وی چی دحب د قوی لغتی وهونکی دهغه آه کـ ونکی ویرجن په ځیرسره دی چی نسبت وخوښی ته یی خفکان خوښوی یعنی وغیرمرئی قوی ته ځان سپارونکی وی مری اوژوندی کیږی ترهغو پوری مری چی پرسحار کیږی اودلمر په ړانګو کښی دهغه وچ سترګی بی جسد کالبدسره ښوری او دخوب لیدو وخیالو ته میل کوی .

ای دحب دعوه کوونکو مادحب په پټ راز سره خبر کی؟ دا څنګه سردی چی وشاته می پټ ښوری اوئی وینم مګر په سل کی سل دارانه معلوده چی دوجود په ضمیر کی می ځای لری؟ دا څرنګه یومنظم فکردی دټولو نتیجو سبب او یا په بل عبارت دټولو اسبابو نتیجه ده دا څرنګه وینوالی دی چی دژوندا ومرګ له تناول څخه یی حلم پیدا کیږی چی اغرب ترژوندا واعمق ترمرګ دی ای خلقو ماخبر کی په تاسی کی هغه څوک شته ترهغو پوری چی یی حب په خپلو ګوتو سره روح مسح نه کی دژوندله خوب څخه نه وینیږی راته ووایاست په تاسی کی به داسی څوك پیداشی چی دکومی بنځی دملاقات په غرض یی دروح به سلا سره دبحرو غروا و بیابانو اوبدوه واقو له طی کړیدی ای ځوانه خپل نفس مه بنده وه خدای ستا زاری آروی اولمونځ دی قبلوی ولی چی حب او اخلاص دده په باره کی ډیر قیمت لری .

ښاغلی [ایوبزی]

طبابت د انسانانو

په نظر کی

لمړی انسانان که څه هم د غرو په غارو کی او سیدل او ژوند یی ډیر ابتدایی ؤ خو بیاهم د ناجوړیو څخه په امان نه وو .

په هغه وخت کی لکه د دوی ژوند هر څه ابتدائی او په اوله مرحله کی وه طب او ډاکتری هیڅ نه پیژندله او نه چا داخیال او تصور کاوه چی کومه ناجوړی سته ، بلکی هغو به هر څه یو دم قدرت ته حواله کول او ویل یی چی دغه ناجوړی هم لکه باد باران ، ژلی واوری دلوړی خوا څخه پر انسانانو اوری . یعنی دیته ئی هیڅ کله فکر نه کیده چی د دغه ناجوړی علت څه شی او څله انسان ناروغه کیږی او یا د ناروغی په وخت کی انسان ته څه پیښیږی خو کله چی انسانان دغرو څخه راووتل او ژوند ته ئی لږ څه تغیر ورکړ نو بیا فکری حالت ئی هم بدل شو خو نه داچی هر څه د علت او معلول په عینکو کی وګوری .

داخل انسان بیاهم هر څه قدرت ته حواله کول خو په لږ تغیر پدې معنی چی که ناجوړی وی که بلا او مصیبت یا زلزلی او نور ټول یی ددې څخه بلل چی هغه ئی د خپلو ګناهو او بدو کارو نتیجه ده .

موږ د تاریخ له رویه دغه حقیقت داسی څرګندوو چی پدغه دوره کی چی انسان ته به کومه ناروغی پیښه شوه هغه یی د خپلو ګناهو څخه بلل او تصور ئی کاوه چی ارواح خبیثه یی په دماغ ننوتلی او سړی ته آزار ورکوی نو د دې لپاره چی هغه «بد ارواح» یی له دماغه څخه راوباسی سرپی ورسوری کاوه پدغه حال کی به ناروغه یا لیونی یا مړ شو ، پوهانو چی د دغه دورې دانسانانو کوم سرونه او مړه بدنونه پیدا کړل ویی لیدل چی د هغو ډیری کلی غاروی پدې ډول ډیر کسان د بشر د ناپوهی او بی تجربگی په سبب د راز راز ناروغیو په منګلو کی مړه او نابود شول .

خو کله چه د یوې خوا په نړۍ کی لومړی ادیان منځ ته راغلل د غو ادیانو او د بلی خوا انسانان طبعی فشارو ، آفتو او ناروغیو دې ته مجبور کړل چی د هغو علت ولټوی او یا یی د اصلاح کید و په سدد کی شی .

په دغه حالت کی طب خپله لومړنی مرحله تیرو له ځکه چی وسایل او اسباب نه وه نو بنه خلکو او مذهبی کسانو به دم ؤ چوف کاوه او پدی ډول یی د بشر دغه د ناروغی له لاسه ناآرامه روح

دقبایلو مستقل رئیس ښاغلی سیدمسعود پوهنیار دسپین بولدک دنوی روغتون دودانۍ دبنسټ ایښودلو وروسته په داسی حال کی چی دکندهار والی ښاغلی محمدصدیق یوشمیر پښتونستانیان او دهغه ولسوالی مخور حاضر دی په دغه باب بیانیه ورکوی

د قبایلو ښاغلی مستقل رئیس په سپین بولدک کی دپښتونستانی وروڼو دپاره دنوی روغتون د ودانۍ دبنسټ ډبره ږدی

ورمطمئن کاوه وایی چی دابن سینا په وخت کی چی هغه داسلام یو لوی فیلسوف اوستر طبیب ؤ یو څوک ده ته راغی او دخپلی ناروغی څخه ئی شکایت ورته وکی پدغه حال کی دبوعلی سیناسره یو لوی روحانی شخص ناست ؤ هغه سمدستی دناروغ پرسردم وکی مګر ابن سینا ورته په قهرشو اووی ویل ددې سړی ژړ په ښور راغلی دی او ته دم پرکوی باید چی داسی شی ورکی چی صفرا ژړ ئی ور آرام کی هغه سړی دی فیلسوف او طیب ته یوه ډیره بده او سخته خبره وکړه، چی ابن سینا ډیر خفه شو، نو بیا هغه لوی سړی ورته وویل چی ته زما په یوه جزئی خبره ژر خفه شوی ما پرده باندی دخدای [ج] نوم ووایه او چوف می پروکی آیا هغه تاثیر نه کوی؟

هغه ؤ چی دیوی خوا مذهب انسانانو ته دا اجازه ورکړه چی دناروغیو دایسته کیدو او درمل دپاره دوا په کار واچوی، او دبل پلوه پوهان او طبیبان پیدا شول چی دناروغانو علاج ئی په بیلو بیلو طریقو او دارو ګانو سره کاوه.

څوکله چی په نړی کی پوهنه پرمخ ولاړه ځکه چی انسانان تل د ناروغۍ له سر نوشت سره مخامخ وه دی ته ئی زیاته توجه وکړه او سم ورسره طب او ډاکتری هم شروع وکړه.

اوس ډاکتری ډیری لوړی مرحلی ته رسیدلی ده او سنی طب دانسان پرټوله بدن او په ټولو غړو، رګو او نورو دننیو اعضاؤ باندی اقتدار پیدا کړی او ډیر لوی

عملیات بی له کوم او ضرر څخه اجرا کوی او س انسان ته د ثابته شوه چی هر څه چی په دنیا کی پاك خدای [ج] کوی هغه معلول په علتو سره دی بی له کوم علت څخه هیڅ شی نه کیږی که دا سی نه وای نو ولی پاك خدای د نر او ښځی د یو ځای کیدو څخه د نسل د بقا سلسله قایمه کړیده او څله انسانان پرته له یو ځای کیدو او آزدواج څخه نه پیدا کوی .

د بلی خوا او سنیو انسانانو دهری ناروغی علت پیدا او هم یی د هغی د علاج د پار مؤثره دوا کشف کړه او س هم پوهان پدی لاره کی لګیا دی او هره ورځ د نړۍ د بیلو بیلو هیوادو په زرها ؤ ډاکتران او طب پوهان په لابراتوارو و دواخانو کی په تجربو او علمی تحقیقاتو اخته دی چی په دغه باره کی نوی څیړنی او کشفیات وکړی د طب او سنی پوهان دی حقیقت ته رسیدلی دی چی بالاخره انسان هغه وخت کولای شی چی د ناروغیو څخه په امان سی چی د خوراك، چښلو نورو شیانو سره احتیاط وکی یعنی او س یی وقایوی طب ته توجه واړوله او دا شی ئی زیات مؤثر وګاڼه پخوا به دوی ډیره توجه علاج ته کوله چی هغه ته معالجوی طب وایی خو او س ډیر کوښښ پدی کی کوی چی د ناروغ حمایه د خوراك او چښلو د رژیم په اصلاح کولو او نورو داډول صحی شرایطو سره وکی .

د انسان د ناروغی اصل علت په خپله د هغه ناروغ په خوراك، چښلو او نورو شیانو کی دده بی احتیاطی او بی پروائی ده که نه څوك چی احتیاط کوی او د قرآن شریف په آیت شریف عمل وکی چی تاسو خوراك او چښنګ کوی مګر اسراف مه کوی هیڅکله به ناروغه نه شی . (پای)

ریالیزم

د ادبی نقطه نظره یو داسی سیستم دی چی د هغه په مطابق طبیعت څرنګه چی دی او یا څرنګه چی ئی لیدلای شی د ټولو قیافو او فضلتو نو وستایلی شی .

په ادبیاتو کی د ریالیزم مکتب د ۱۸۵۰ څخه په فرانسه کی شروع شوی دی د دې مکتب پیروان معتقدوه چی هنر او ادبیات د مستقیمی مشاهدی د لیاری څخه مطالعه شی او د واقعاتو د کامل پر بیان مشتمل وی .

په تیاتر او صحنه کی ریالیزم د الکزاندر ډوما په واسطه راغی .

ریالیزم په حقیقت کی لومړی ځل د ادبیاتو د حصی څخه شروع نه شو بکه لومړی په نقاشی کی د «ګوستا» او «کوربه» په توسط پیدا شو او معتقدوه چی هنر د هنر د پاره یو یو چی بی معنی کلمه د ؛.

دغه مکتب تر ټولو پدی مهم دی چی د رومانو نو او نور ادبیاتو اساس نن پر دی ایښود شوی دی اما د ۱۹ پیړۍ په نیمائی کی یوه ډله لیکوال پیدا شول چی د ریالیزم څخه ئی مخه وګرزول او د رومانتیک جنبی ئی ځینی وغورځولی او زیار ئی ایستی چی تجربوی اصول او علمی لاره په ادبیاتو کی پیدا کی نو ځکه افراطی مکتب د ناتوریزم په نامه راووت .

دښاغلی [س] ژباړه

د هارونی ترجمه:

زموږ د نوی کال په مناسبت

د نړۍ په مختلفو اولسو کی چی کال نوی سی د وی څه کوی؟

د جهان ځینی اولسونه د نوی کال د هغو جشنو او اختر و په مناسبت چی دوی ئی مراسم پرځای کوی ډیر خوندوری برخی لری.

راسی چی ځان په پوه کړو او د دوی د دې مراسمو سره آشنائی پیدا کړو:

د اختر و نه په ډیرو ولسو کی د ځوان هلک او پېغلی نجلۍ د ازدواج واقعات هم منځ ته راوړی چی د دې جهته وځوانی طبقی ته حقیقتاً د اختر د خوشحالی وړدی د اد نوی کال مراسم او ازدواج څه قدیمی ریښې هم لری مثلاً پخوانی مصریانو کال پر دوو لسو میاشتو تقسیم کی او هره میاشت ئی دیرش ورځی وشمېرل پنځه ورځی ئی نوری د کال په پای کی ور اضافه کړی.

د پسرلی لومړۍ ورځ ئی د هوا د اعتدال په نسبت د کال لومړۍ ورځ وټاکل نو (فرعونانو) به د پسرلی لومړی ورځ جشن جوړاوه پدغه ورځ په دلمر راختلو د مخه له کورو راوتل ګلان او خوشبویه بوټی به ئی د ځان سره راخیستل د دوستانو او متعلقینو لیدو ته به سره ور تله ساز و آواز و به هم کیدی. بیا ئی د اد کال لومړۍ ورځ د (نجونو اختر) و بالله د مصر غټو نجونو به د دې اختر د مخه ښه کالی او د ښکلا سامان ځان ته برابراوه پدغه ورځ به ئی د اکالی واغوستل د زینت سامان به ئی په ځان پوری کی او عطر به ئی ووهل د اختر په لومړۍ سهار به د ښار و یوه لوی ډګر ته ولاړې هلته به د مخه د ښار ځوانان صفونه تړلی ولاړوه په یوه عالم آرزو ګانو به ئی وخپلو نجونو ته کتل. دوی له منځه به هر چا ځانته نجلۍ ټاکل.

د کوم ځوان چی به یوه نجلۍ خوښه سوه د هغه برابری ته به د احترام په رسم کوږ ودریدی او د عاشقانه تعظیم به ئی وکی او هغه

معروف او مشهور ګل (لوتس) به ئی چی په مصر کی ډیر محبوب بیت لری ور تقدیم کی د اوخت که به د نجلی هم د ځوان څخه ښه راغله نو د مثبت جواب په معنی به ئی د خپلو هغو ګلانو څخه چی په کاکل کی به ئی وهلی وه یوه دانه راواخیستل او د ځوان په لاس کی به ئی ورکی که به د ښځی ځوان

نه ؤخوښ نو هغه د ځوان دلاس گل (لوتس) به ئی په ډیر عزت ورمسترد کی .

په دې حصه کی چی د لمر دراختلو دمخه به د کوره وتل ددوی عقیده داسی وه چی که لمر په خپلو کورو

کی پر راختلی وای نو په ټوله کال کی به بیا مریضان ټمبل اومړاوی وای .

(تیرول) په اتریش کی یوه غرنی سیمه ده ددې ځای خلک عقیده لری چی لیکمرغی د کال دنوی کیدو

سره د دوی د وړوکـو ماشومانو په لاسو سره پر دوی ویشل کیږی .

داختر په لومړی سهار ماشومان په ډلو ډلو له خپله کوره وزی او په نورو کورو ننوزی هلته د مرغانو د

کوډلو او د نورو حیوانا تو داستوګی وځای ته ورځی . پروړو، او ربشی، څه

معطر وا ښه اومیده ډوډۍ وحیوانا تو ته ورکوی لدې وروسته باغو او کښتو ته وزی ددرختو په ښاخو او نورو

بـوټو پوری رنګ رنګ

رښکی تړی او په مځکه کی څه د غله جاتو تخمونه ایږدی پسله دې بیرته د کور خواته رهی کیږی هلته ئی مشران د اختر په

مبارکی کی څه شیرنی او نور خوراکی ؤدبازیوشیان ورکوی . ددې خلکو عقیده ده چی د

وړوکو په توسط ددی مراسمو پرځای کول دا نتیجه لری: حیوانات بی د بدوستر کو په امان وی - مرغان به ئی ډیری هګی واچوی ، درختی

به ئی ډیری میوې وکی فرضاً که دا مراسم د یوی پیښی په وجه پرځای نسی نو دوی وائی چی

خدای [ج] راته په قهر شویدی له هغه وروسته په کلیساؤ کی سره ټولیږی او په عبادتو مشغوله شی چی خدای ترګناهو ورتیرسی

په (ارمنستان) کی د نوی کال دنوی کیدو سره د هغـه ځای پیغلی نجونی دقدیم عادت پر

اساس دځلمی میړه په تلاښ پسی راوزی هغه یـو مرغـه چـی ملاچرګک ته ورته دی دوی ئی (شوکا) بولی په سوریه ؤلبنان

کی ئی (شوحه) بولی د کال پدې اختر کی چی ددوی د کور پر سر تېریږی یا ئی د کور پـر بامـو کښېنی پېغلی نجونی یـو ډول

مخصوصه شیرینی د اختر یوه شپه دمخه په خپلو لاسو جوړوی او د اختر په لومړی

سهار ئی پر بام ایږدی او پخپله نجلۍ په یوه ګوښه کی پټیږی .

(شوکا) چی ددې شیرینی سره علاقه هم لری په سیلو سیلو راځی او ددوی د کورو پرسر ګرزی - آخر ددې

شیرینۍ د پاره پر بام کښینی او داخستلو په مسابقه پیل کوی څو په دوی کی یو موفق

شی او شیرینی په مشو که کی واخلی د (شوکا) نیت وی چی شیرینی پر دغه بام نوش جان کی خو نجلۍ د

هغه پټ ځای څخه ورو ځغلی او (شوکاګان) په هـوا والوزوی داوخت د نجلۍ

زړه په ریږد کی شی ځکه که شو کالیری الواته وکړی خصوصاً دافق خواته د نجلۍ عقیده ده چی دا یو کال

میړه نسی پیدا کولای او که (شوکا) دهمسایه ګانو پر بام کښېنوست یادلی ددوی د کور پر سر ګرزیدی نو په همدغه کال به دا میړه پیدا کی

او نیکمرغه به وی .

د (سیلون) خلک د کال لومړۍ ورځ (آفوروزومنګالیا) بولی دا ورځ د دوی د پاره دینی ورځ هم ده کوم مراسم چی لری هغه پدې ډول دی :

د اختر یا د کال پدا لومړۍ ورځ یو کوچنی فیل چی (مقدس فیل ئی بولی) را روان کی - او په زرو خلک پدا سی حال کی چی رنګ رنګ کالی ئی اغوستی وی (ډول ؤ سورنا) ورسره وی ترشا پسی ځی ښځو په مخصوص لباسو کی ځانونه اچولی دا یشلو او اتڼ په حال کی ورسره ملګری وی - دا فیل او دده ورسره خلک پر ځینو ځایو دریږی او ښځی خپل دا تڼ راز - راز نمایشات اجرا کوی، د موزیک ډله محلی اهنګونه پر له پسی اوروی او یو عالم خوشالی په خلکو کی ښکاره کوی .

فیل هم په ژیړو او سروټو کرانو پوښل شوی او په طلائی ګېڼو چی جواهرات هم پکښی کار شوی وی ښایسته شوی وی ، پر سر ئی یو ښکلی سایوان ور درولی وی چی د سیلون ګرمی ئی سرورونه سوځی .

فیل ته نژدی د قوم بزرګان او غټان په حرکت کی وی او کوښښ کیږی چی فیل ته د خلکو لاس ورسیږی ، کله چی دا کار بشپړ سی نو دوی وائی د کال راتلونکی ورځی به مو په خیر او برکت تیری سی .

(وسټ پالی) په المان کی دیو ځای نوم دی چی کال ئی نوی سی دیو لوی جشن ترتیبات نیسی د دی جشن په ترځ کی زوړ کال (د دوی په عقیده) په دریاب یا رود کی ډوبوی چی نکل ئی دا سی دی :

پدا سبا چی د کال لومړۍ ورځ وی نو د دې ځای ښځو دیوی زړی ښځی په قیافه لویه ناوه کی جوړه کړی وی چی د شپی ۱۲ بجو ته لاڅه وخت پاته وی د هری ناحیی ځوانان که نروی که ښځی له خپلو کورو راوزی د دریاب یا رود یا لویی ولې غاړی ته ځان رسوی او هغه ناوکی (یا د زاړه کال) مظهر هم ورسره وی کله چی د کلیسا د ساعت زنګ د ۱۲ بجو په اعلان شروع وکی نو ځوانان د زنګ د هر وار سره د بجو عددونه ورسره شمیری کله چی د ولسم زنګ "ووهل شو نو هغه د زړی ښځی په شکل ناوکی رود دریاب یا نورو اوبو ته په شدت ورغورځوی .

په دې وخت کی د وطن نوری نجونی چی ځانونه ئی په ښکلو کالیو سانبال کړی وی دې ډلو ته د خوراکه بابو سره راځی دا بیا د نوی کال مظهر بلل کیږی کله چی دوی درود یا دریاب د غاړی هغه پخوانو ځوانانو ته راسی هغه ئی ډیر احترام وکی او خوراکی شیان یی د لاسه واخلی د ساز و آواز او اتڼ په حال کی د دغه خوراکه بابو په خوړلو پیل کوی دا کار چی تمام سو بیا نو دغه جوړه کړی نجلۍ د ځوانانو له خوا پر لاسو واخیستل شی پدا سی حال کی چی غزلی وایی د ښار پر خوا ور رهی شی تر سهاره ساز و آواز او اتڼ شروع وی .

دغه نجلۍ چی ځان ئی جوړ کړی وی او د نوی کال علامه ده باید په همدغه کال دیو چا سره واده وکړی ، که په دغه کال چاونه غوښتل نو باید دا نجلۍ لدې محل څخه کوچ وکی ځکه چی د دې ځای خلک بیا د دې لیدل شوم او بدمرغه بولی .

[پاته په ۱۶ مخ کی]

پخوانی ادب — میرزا حنان

پژمرده به ټول گلان

د کندهار وی

زه به واوړم ستاله مخه یاره کله؟
د بلبل گرزېده نه کیږی له گله
فکر مه کوه د یار د مخ په خیال کی
سودائی به سی پدا کی زغله زغله

مستو سترگوئی په قصد د خلکو ځکه
د آبرو لینده تر غـــــــوږه وځکوله
زه او یار لکه دوې سترگی همسایه یو
یو د بل په کور شناخته نه یو هیڅکله
دا کـږې د کـاږه بـخـتـه را رسیږی
چی مدام زما پریوه ده ستا پر بله

لکه خس د سیلاب - خلاص د گمراهی یم
پر اوږه د رهبر سپوریم تر منزله
پژمرده به ټول گلان د کندهار وی
چی په مرگ ولاړې [حنان] رنگه بلبله

ښاغلی محمدعلی [خواجه]

د آسمان هلال د استاد حسن خیر

دغرمی ګلان چی وه پرانه خازه
د بهار په نسیم ټوله سوه تازه

✡ ✡ ✡

بلبلانو هم د عشق پر باغو باندی
باغ کښی جوړه کړه د ګلو مغازه

✡ ✡ ✡

چی ښایست دی یو ذره پر ګلو پروت دی
د خوبی یی پر جهان سوه آوازه

✡ ✡ ✡

د آسمان هلال د استاد حسن خیر
لتا غواړی ولاړ ستا پر در وازه

✡ ✡ ✡

چی کتاب د بیلتانه دی پلاس راکړ
ښور ماښور می د راحت سوه شیرازه

✡ ✡ ✡

د مطلب د دیوال سر ته نه رسیږم
که دریږم د طلب پر کوازه

✡ ✡ ✡

چی شهید دی کړم بی تیغه خال دی ځکه
د امام په شان ولاړ پر جنازه

✡ ✡ ✡

[خواجه] مه در پغوه سر و مال په عشق کی
هست و نیست دی پر خپل یار باندی بازه

دښاغلی [سربن] تتبع اوغونډونه

د کندهار هغه نادره شعراء چی د زمانې په مختلیفو ادوارو کی تیر شوی دی

د ناصر الدین سبتګین د پاچهی په زمانه کی طغان نومی د بست ولسوال تقلب او سرکښی وکړه .

نو یو جرار لښکر ئې ځینی په غرض د غزنی څخه وګمارل شو او وروسته تر زیات زدوخورد نوموړی حاکم (ولسوال) مات او سبکتګین ته د نور وغنایمو په ضمن کی یولوی غنیمت چی ابو لفتح بستی ؤ په لاس راغی . سلطان څرنګه چی دده دشان سره ښائیدل هغسی ئې ورسره وکړه .

د دفتر د مشر توب درنه وظیفه ئې په غاړه کی ورواچوله او د سلطنت په مهمو امورا تو کی ئې د ځان مشر وګرزاوه که څه هم په لومړۍ مرحله که ئې د (بای نور) حاکم د منشی توب دوخت د حاسدانو په ملحوظ نوموړی وظیفه قبوله نه کړه او د پاچا په اجازه ئې د کندهار په (رخج) کی څو عمر په عزلت او بیکاری سره تیر کړ مګر کله چی ئې خاطر د بای ثور او اطرافیانو له طرفه څخه جمع شو نو ئی د مجبوریت او د ګذارې د حصر توب له وجه د سلطان په دستګاه کښی ځان داخل کی او تر مرګه پوری پر دغه وظیفه باندی باقی ؤ .

مګر ځینی مؤرخین بیا وایی د وزارت په زمانه کی مړ شوی دی د مرګ نیټه یی د فرید وجدی دائرة المعارف [۴۰۰] هجری سنه او ابن خلکان ئی [۴۰۱] هجری سنه ګڼی .

د ابو الفتح بستی آثار :

عمومی د لباب الالباب د کتاب لیکونکی وایی ما د ابو الفتح بستی دوه دیوانه پخپلو سترګو لیدلی دی چی یو یی په تازی او بل په فارسی ژبه دی، دا لاندنی قطعه می د نمونی په ډول ځینی رانقل کړه : ✡

د ۱۳ مخ پاته

د نړۍ په مختلفو ولسو کی .....

د روسیی په (اوکرائن) کی ځوانان ځانته د کال په لومړۍ شپه ښځه ټاکی پداسی ترتیب چی د ښار څخه د باندی چمنانو ته وزی هلته ډیری ښځی او نجونی هم تللی وی مړ وښی ښځی د نارینه ؤ ځوانانو څخه غوښتنه کوی چی لدې ځایه څه قدر ګوښه سی هغه وخت پیغلانی نجونی تر یوه لوی ټوکر لاندی پټوی او بیرته ځوانان راوغواړی او هر ځوان خپله ښځه تر ټوکره لاندی بېله دې چی وئی وینی انتخابوی او دا انتخاب د دوی د خواهش سره سم شوی وی ځکه : د مخه لا ځوان ته هغی خپلی نجلی ځینی نښانی او علامات ورښوولی وی او هر ځوان خپل د مطلب ټوکر ته برابر رهنمائی شوی وی . خو که فرضاً دا انتخاب غلط وخیژی او سره خوښ نه وی نو د څه مقدار روپو په مقابل کی به د هغی نجلی څخه ځان خلاصوی .

یکی نصیحت من گوش دار و فرمان کن — که از نصیحت سود آن کند که فرمان کرد
همه به صلح گرای و هم مدارا کن — که از مدارا کردن ستوه گردد مرد
اگر چی قوت داری وعده بیار — بگرد صلح گرای و بگرد جنگ مگرد
نه هر که دارد شمشیر حرب باید رفت — نه هر که دارد بازو زهر باید خورد

* * * * * * * * * * * * * * * * * *

دابو لفتح بسی د زوکړی ټاټوبی قاضی احمد ابن خلکان د دنیات په کتاب کی لیکی چی ابو الفتح بستی په صفایا کی چی یو ناحیه د بست ده زیږیدلی دی گمان کوم چی صفایا به دمخه [ښهر صفا] وی چی په ما بین کی د کندهار او قلات ئی تر اوسه پوری خرابی موجودی دی .

د ابو الفتح بستی د تحصیل زمانه :

علامه بستی د هغه عصر له نجیبه علماؤ څخه بشپړ کړی دی .

چی یو له هغو څخه ابو حاتم ابن بستی دی یاقوت حمری لیکی چی دی جناب په څلرم قرن کی په ادبی فنونو او د احادیثو په علم کی په ټوله شرق کی ساری نه درلودی ابو الفتح بستی خاصتاً د ده په توجه سره وهو مره درجی ته رسیدلی دی چی اوس ئی ټول اصحاب د بدیعیاتو پیروی کوی او لاندنی بیت ئی د ده خط مشی گرزولی دی :

الی حتفی مشی قدمی
اری قدمی اراق دمی

د ابو الفتح بستی افکار :

که غواړی چی د بل چا محبت خپل ځانته ډیر حاصل کی نو هغه چی تا ته د رکړه سوی دی له ده سره یی شریک که، تر جنگ په صلح خوښ وسه، که غواړی چه نوم دی د ظالمانو په فهرست کی درج نسی، د خدای [ج] ټوله أو امر پر ځای که چی د سړی توب مصداق وگرزی

د هم عصر و شاعرانو مدحی چی د علامه بستی په وصف کی ئی ویلی دی :

موسی ابن محمد ابن عمران طوبقی فرمایی

اذا قیل ای الارض فی اناس زنیة
اجبنا وقلنا ابهج الارض بستها

فلو اننی ادرکت یوماً عمیدها
لذمت ید البستی دهراً وبستها

ابن خلکان په رفیات الاعان کی د ابو الفتح بستی د نظم او نثر د شرحی توصیف کوی او بعضی ئی د نمونی په ډول بیانوی

اذا احسست فی الفظی فتوراً
وحفظی و البلاغته والبیان
فلا ترتب بفهمی ان رقصی
علی مقدار ایقاع الزمان

په یوه ځای کی پخپله استاد ابو حالم بستی داسی ستاینه کړی ده ابو الفتح بستی یو ستوری دی چی د بست د علم پر آسمان باندی راختلی دی خو قدر ئی هغه وخت پیژندل کیږی چی څوک ئی په حقیقی معنی سره و پیژنی

ابو حالم محمد بستی :

یو له اجله علماؤ څخه د بست د کندهار ابو حاتم محمد ابن حبال ابن معاذ ابن سعید ابن معید ابن شهید بستی دی چی په (۳۵۴) هجری سنه کی مړ شوی دی .

او تصنیفات ئی په لاندی ډول دی :

۱ کتاب الصحابه په ۵ جلده کی
۲ » التابعین په ۱۲ جلد کی

۳ کتاب تبع التابعین په ۱۵ جلده کښی
۴ کتاب نبا الانباع په ۷ جلده کښی
۵ کتاب نباع التبع په ۲۰ جلده کښی
۶ کتاب الفصل بین الناقلته په ۱۰ جلده کښی
۷ کتاب علل اوهام اصحاب التواریخ په ۱۰ جلده کښی
۸ کتاب علل حدیث الزهری په ۲۰ جلده کښی
۹ کتاب علل حدیث مالك په ۱۰ جلده کښی
۱۰ کتاب مناقب ابوحنیفه [رح] په ۱۰ جلده کښی
۱۱ کتاب علل ما استناد الیه ابوحنیفه په ۱۰ جلده کښی
۱۲ کتاب ما خلف الثوری شعبته په ۲ جلده کښی
۱۳ کتاب ما انفرد به اهل المدینه من السنن په ۱۰ جلده کښی
۱۴ کتاب ما انفرد به اهل مکه من السنن په ۱۰ ټوك کښی
۱۵ کتاب ماعند شعبته عن ثقاة په ۲ ټوك کښی
۱۶ کتاب غرایب الاخبار په ۲۰ ټوك کښی
۱۷ کتاب اغرب الکوفیین عن البصریین په ۱۰ ټوك کښی
۱۸ کتاب ما عرب البصریون عن الکوفیین په ۸ ټوك کښی
۱۹ کتاب اسامی من یعرف بالکنی په ۲ ټوك کښی
۲۰ کتاب الکنی من یعرف بالاسامی په ۳ ټوك کښی
۲۱ کتاب الفصل و الوصل په ۱۰ ټوك کښی
۲۲ کتاب التمیز بین حدیث النضر الحدانی و النضر الخزاز په ۲ ټوك کښی
۲۳ کتاب الفصل بین حدیث اشعث ابن مالك و اشعث ابن سوار په ۲ ټوك کښی
۲۴ کتاب الفصل بین حدیث المنصور ابن المعتمر و منصور ابن راذان په ۲ جلده کښی
۲۵ کتاب الفصل بین ابوعبدالله المکحول الازدی په ۱ جلد کی
۲۶ کتاب موقوف مارفع په ۱۰ جلده کښی
۲۷ کتاب آداب الرجاله په ۲ جلده کښی
۲۸ کتاب السند خباده عن عباد په ۱ جلد کښی
۲۹ کتاب الفصل بین حدیث نور ابن یزید و نور ابن زید یو جلد
۳۰ کتاب ما جعل عبیدالله ابن عمر عبدالله ابن عمر
۳۱ کتاب ما جعل شیبان سفیان و سفیان شیبان په ۳ جلده کښی
۳۲ کتاب ناقب مالك ابن انس په ۲ جلده کښی
۳۳ کتاب ناقب الشافعی په ۲ جلده کښی
۳۴ کتاب المعجم علی المدن په ۱۰ جلده کښی
۳۵ کتاب المقلین من الحجازیین په ۱۰ جلده کښی
۳۶ کتاب المقلین من العراقیین په ۲۰ جلده کښی
۳۷ کتاب الابواب متفرقه په ۲۰ جلده کښی
۳۸ کتاب الجمع بین الاخبار المتضرة په ۲ جلده کی
۳۹ کتاب وصف المعدل و المعدلی په ۲ جلده کښی
۴۰ کتاب الفصل یو جلد
۴۲ کتاب الهدیته
۴۱ کتاب وصف په ۲۰ جلد کښی

سردار مهردل خان مشرقی :

سردار مهردل خان د مشهور سردار پاینده خان محمدزی له هغو [۲۱] زامنو څخه دی چی د افغانستان په تاریخ کی ډیر شهرت لری د سردار کندل خان سکنی ورور او نور ورونه لی د اعلیحضرت امیر دوست محمد خان په عصر کی د کندهار مشران او حکمرانان وه سردار مهردل خان د ۱۲۱۲ هـ د محرم می په میاشت کی زیږیدلی او د خپلو ورونو په سیوری کښی لوی شوی دی سردار مهردل خان د پښتنو لوی ادیب او عالم دی چی په فارسی هم ښه دیوان لری او تخلص لی مشرقی دی دا پښتون سردار ډیر علم پالونکی او ادب روزنکی سړی ؤ په علمو او ادبیاتو او تصوف کی لی ډیر ښه معلومات درلوده دده ځای په کندهار کښی یو ادب ټون ؤ چی ډیر ادبا شعرا پکښی یو ځای کیده ؛ میرزا خان حاجی عبدالله صدیق اخندزاده، ملا میران او نور مشهور ادبا دی.

دا ادیب سردار معاصرین او ملګری وه، سردار مهردل خان په جمعه د دریمی خور [۱۳۷۱] هجری کال چی د [۵۹] کالو ؤ چی په کندهار کی وفات شوی او هلته د حضرت چی بابا له مزاره سره ښخ دی میرزا احمد نومی شاعر دده د وفات د تاریخ ماده په دغه ډول ویلی ده .

احمد از هر کس تفحص می نمود — سال فوت آن شه اقلیم جود
هاتفی بنهاد سر بریاس گفت — منزل او باد جنات خلود

((۱۷۲۱)) ج

میرزا احمات دده معاصر ادیب د سردار مهردل خان مرثیه په یو څو بیتو کی ویلی ده چی د دې ادیب سیرت او سجایا ښه ځنی ښکاریږی او هغه داده :

وجوار ته د مولا سردار قرین ولاړ
چی مرغوب د کل عالم ؤ په تحسین ولاړ
د هنر او علم کان د احیا بحر
په خلعت د نیک نامی څه ښه رنګین ولاړ
په جیفه ئی د دنیا ځان ککړ نه کړ
د عمل په صابون پاکه جامه سپین ولاړ
وسخا ته ئی حیران حاتم طی ؤ
تکیه ګاه د هر فقیر او د مسکین ولاړ
فیض رسانه لکه لمر وکل جهان ته
مستقیم پر شریعت حامی د دین ولاړ
په حکمت یی افلاطون شاګرد د عصر
چی تقریر یی ؤ شرین تر انګبین ولاړ
اعتماد باندی د کړونه دی [حنانه]
چی سردار مهردل د دې د نیا یقین ولاړ

[نور بیا]

نثر

پسرلیه ښه راغلې

راسه، راسه ستا سره خو
د نوی ژوند زیری ملګری دی!
خدای دی راوله! تل راشی
د بزګرانو اختره!

ستا په راتلو سره درو،
غرو، رغو او دښتو سپینی
جامی وغور ځولی او د
خوشحالو پېغلو په څیر ئی
شنی جامی بدلی کړی

ستا راتګ ته ټولو خلکو
سترګی پرلاری نیولی وی
خصوصاً بیا هغه بزګرانو او
کروند ګرو چی دژمی په
سړو ورځو کښی ستا په
انتظار کی ناست او غریبانو
به د کورو څخه د باندی

مځکی په دې ملحوظ چی
هیواد موسمسو روالی
پیدا او کرهڼه مو ترقی
وکړی خړوبه او یوی کولی

څو د کار او زحمت په برکت
خلکو ته غذایی مواد برابر
او د هیوادوالو اقتصادی
بنیاد پرپښو ودریږی.

داته ئی چی دژمی بد
شکله بڼی ته چی تل د غریبانو
د آزار موجب ګرزی شکست
ورکړی.

خواران د رحم او مهربانی
په غیږ کی نیسی او د ښه ژوندو
لور ته ئی بولی.

ستا راتګ وهر شی او هر
چا ته د نوی ژوند الهام بخښی همدغه
سبب ؤ چی ما هم په خپل ضمیر کی
د خوشبختی احساس کاوه او غوښته
می چی ستا په راتلو سره د نوی ژوند
د پاره نوی ګام واخلم او خپل
ټول کارونه یو ځل بیا ستا په راتلو
سره چی د نیک پالی لرغونی دود
ګڼل کیږی شروع کړم.

په رشتیا هم ستا راتګ
مؤثر دی هر شی ته نوی ژوند
ور بخښی وچ واښه، وچی ونی
او بی ګله بوټی ټوله وخپلو بڼو ته
تغیر ورکوی.

واښه د سپیره رنګ څخه شنه
رنګ ته، بی پاڼی او بی میوی
ونی د میوو ګلان کوی. د ګلانو
بوټی غوټی خلاصوی او په خپله
یوه خوله خنداسره (چی د خندا
یو اځنی عامل یی ته یی) د پیغلو په
زړونو کی یو عالم د خوښی، نشاط
امیدونه او آرزوګانو نظام
روزی نو داته ئی چی د طبیعت
هستی ته ښکلی بڼه ورکوی.

دلته باید یو ځل بیا ووایم چی
د ژوولپاره د غذائی موادو
ارزانی بخښی پېغلو او ځوانانو
ته د خوښی او خوشحالی یو عالم
ارمغان راوړی.

رشتیا چی داته ئی چی د ټولو
ژوولپاره خدای [ج] سبب ګرځو
لی یی زموږ څخه خود منی خزانی
سیلی د ممسکو شتمنو په څیر
هر څه را څخه تالا کړه یو ازی همدا
ته ئی چی پر ټولو ژوو باندی

د ښو پیرزوینه لری ستادی
عام سخاوت مهربانی ته ټول
عالم د قدر په سترګه ګوری او
هر یو دی ښه ستایی خو پام
کوه چی په دی خبره غره
نسی. او هر څه د ټولو
انسانانو په تیره بیا د بیوزلو
د پاره نثار کړی.

زه د یوه دوست په صفت
تا ته وایم که غواړی چی د
تل له پاره دی خلک ستاینه
وکړی د پسرلی پیغامونه
راوړه خپل نظر مه سپموه او
په هر شیبه کی خپل د مهربانی
بختور وزرونه غوړوه او دغه
خزان وهلی د نیا په
ښادیو ښادوه څو ستا د ښه نظر
په وجه د نیک مرغی په ملحوظ
د عالمیانو پر زړونو د رحمت
بارانونه واوری.

(ښاغلی رحمت الله مړوند)

ښاغلی ژواک

ادبی برم څه سو؟

دلته دامپراتور یو سره توره او د توری سره قلم حتی دښه فکر سره تیره ژبه هم وه.

په دی ښار کښی چی حنان بارکزی به ویل:

داغفلت وهلی زړه به ریز مریز کړم
ماتیده د زنګ وهلی کلپ کلی ده

زړو نه غفلت و نه وهل؟ او دلته د دی زنګ وهلی زړونو د پاره ماتیدل په کار ندی؟ د کندهار دلوی تاریخی ښار نو یوزلمو!

د کندهار د نوی نسل تهالګیو!
د کندهار د نوی ژوند غوښتونکو!
دا کندهار دی!

دلته دمیوند معرکه د تاریخ په لمن کښی دافغانستان دافق ښه سره رنګینه نخښه ده.

دلته د سوبی او بری ښی افسانی سته هغه موهیر دی د عینو پښتنی روحیه او دلویی ادې پښتنی ارواستاسی د نوی ژوند انتظار باسی.

اوریدلی مودی چی لویی ادې د خپل زوی وزیر فتح دړندولو په وخت کی استازی ته وویل: دسترګو کښلو په وخت کی خود وزیر ترخوله دویش او آخ ناره نه ده وتلی؟

هغه وویل: یه!

لویی ادې شکرو کیښ چی فتح پښتنی غیرت ساتلی دی.

داوه دلویی ادې غوښتنه د پښتون زوې څخه، او عینو دلوی احمدشاه بابا څخه د خپل محبوب بیلیدل د دې موجب وګڼل چی ورته ووایی:

[ته ما خپل همزولو ته شرموی ځکه دوی به وایی

دا ځوان د جنګیا لیو څخه تښتید لی دی) دې ډول د همزولو پیغور عینو دې ته وګومارله چی دده څخه مروره شی او دې بیرته دلوی

احمدشاه بابا لښکر ته ورولی داده د عینو غوښتنه چی د خپل مین څخه ئې کوی او دی د سوبی د ګټلو سره یو ځای خپلی غیږی ته رابولی.

وګوری ئې نن زمونږ د غوښتنو رخی کومی خواته دی.

د مومند محمد ګل ادبی برم چی د کندهار په ښار کی د پښتو انجمن په جوړولو جوړ و هغه

نن د کندهار د ښار د زړې کلا د نړولو سره سم ندی نړیدلی؟

زه خو ئې نه وینم زما سترګی ړندی دی که دا محیط را ته ګنګ او ړوند ښکاری دلته د آرمان ناری ولی نه اوریدل کیږی.

او دلته د زاړه برم یاد ته کندهاریان ولی نه رابلل کیږی: اکندهار نه دی؟

ووایاست د کندهار زړو او وړو!
د کندهار د برم پر میراث ناستو خلکو!

زا پوښتنی لرم او د پښتنو ځواب ته په هیله ناست یم .

ما ته ځواب ولی نه راکوی زه زاړه خوبونه وینم او دا زوړ خوب تاسی د تیر برم سره د میرویس نیکه او احمدشاه د شنختو څنګ ته مرور ناست بولی .

نه سی کولای چی دادب د برم د زلمی حنان بارکزی قبر را وښیاست چی ورسم او د ژبی ښورولو مراد ځنی وغواړم .

راوئی ښیاست د حنان بارکزی قبر د استاد پیر محمد مزار او د شمس الدین کاکړ د زیارت لوری، پوهیږم چی ژوندی زما د ارمان پاریدلو علاج کولو ته ندی حاضر د کندهار وروڼو!

ما بوزی د حنان، پیر محمد او شمس الدین مزار ته .

زه هلته د مزار مړه شمع لګوم زه دا شمع مړه پری ښوول ګناه بولم

ما ته دا ب د هغو بلبلانو باغ او بوستان را وښیاست زه ځم زه د هغه باغ خزان وهلی لوری ته هلته د کوم مسافر راغلی بلبل سره د ارمان چیغی وهم دا کار کولای شی ؟!

پوهیږم چی تاسی زما چیغو ته په کوم اهمیت نه یاست قایله .

تاسی زما د ارمان سره ډېر بی علاقه ښکاری .

تاسی پرون هیر کړی دی او د سبا هیله د سره مړه ده تاسی نن د اقل ژوند جار او جنجان په ځان اخته کړی یاست .

ستاسی سره نن د زاړه برم د شمع لګولو مینه نسته .

تاسی ته د ژبی ښورولو پر ځای پټه خوله بهتره ښکاری .

مګر زما د لیونی زړه علاج پکار دی علاج ؟

پوهیږم چی تاسی ته زه د خپل ښاریو لیونی ښکارم .

منم چی زه لیونی یم مګر د لیونو لپاره د یوه ځنځیر په کار دی ما ته د یوه ځنځیر شرنګی تر پټه خوله غوره ایسی .

کولای سی چی خپل لیونی ته ځنځیر پیدا کړی .

منم چی تاسی په اوسنی حال راضی یاست .

یقین لرم چی تاسی ته په اوسنی ژوند کی تر څه ویلو نه ویل غنیمت ښکاری مګر د دې لیونی علاج پکار دی او د دې پاریدلی ارمان د خاوند د پاره هدیره وښیاست .

دا کار کولای سی او دا د ژوند ارمان زړه ته د تورو خاورو نازور کولای شی؟

زه راضی یم چی ما د خپلو تیرو مړ نیو څنګته وروسپاری زه خوښ یم چی د ځان سره دا پاریدلی احساس هلته ملګری وساتم ځکه په ژوند کی ما تاسی د خپل پاریدلی احساس ملګری نه کړی .

ما وسپاری د میړ نیو ځنګنه ای په ژوند کی د ما څخه بیلو! ما وسپاره ډی یر ژر

که مو دا څو ژبی زده کولی د هغو تاثیر هم په نظر کی ولری

دا د یوه ایټالوی موسیقی دان نظریه ده وائی کله چی د دې څو اروپائی ولسو ژبی زده کوی نو د دې ژبو تاثیر هم په نظر کی ولری :

که غواړی چی یو محبوب سړی در څخه جوړ سی فرانسوی زده کړی .

که غواړی صرف استفاده د کی او هر ځای وچلیږی نو انګلیسی زده کړی .

که غواړی چی غزل خوان در څخه جوړ سی ایټالوی زده کړی د ه [ژباړه]

د خارجي منابعو څخه

د ښاغلي محمد ابراهیم امین ژباړه

د هند موسیقي



د هند موسیقي یو عالي سیستم لري چې ۳۰۰۰ کاله ئې تاریخ اټکل کیږي د هند په موسیقي کې داسې مشخص نقاطه سته چې د ټولې دنیا موسیقي دانان ئې باید مطالعه کې د موسیقي د مبلودك د سیستم

ټول طرزونه په کښې دي او دغه ته د هند د موسیقي سوغات ویل کیږي چې نوره دنیا ئې ورکوي .

د راګونو تصور او فکر د کاملي موسیقي د پاره یو لوی عامل دی که لږ فکر وکړو د ساز ټول آلات د هند د زړو قصو او تریمو دت سره ارتباط لري چنانچه

د باد نبیك وشنو نومونه چې د صاف څخه جوړ شوي دي د مذهبي مراسمو دا دا په وخت کې یا دیږي کرشنا باقلوت او اسواتي

د برهمانا ندینه د هند په موسیقي کې ډیر اهمیت لري رګا الافانا یا د راګونو د هنري تجسم یو بشپړه موسیقي ده چې په هندي اصطلاح (فرسه) ورته ویل کیږي هندوستان ته د موسیقي خاوره یا (سانګ بهومي) ویلای شو، موسیقي د ملت د ژوند او د اساسي احتیاجاتو څخه بلل کیږي د هند د موسیقي سیستم د دوی د مقام د عظت او د لویي د صورتونو د کشف د احساساتو د ښکاره کولو لوی عامل دی هندي راګونه مسلم حقایق دي د هغو کسانو د پاره چې متعلم او تربیه ئې په ښه شان شوي وي د

هند خلك موسیقي د لذت او خوش ګذراني د پاره نه خوښوي بلکې غواړي چې په دې وسیله سره د زړونو باریك تارونه په ریږد راولي او په معنی دنیا کې د ډوبید د لاري خپله اخلاقي پایه لوړه کې .

هند د موسیقي په ټولو شقوقو کې بډای او غني دي د کامل وزن سیستم د راګانو تالا د سیستمونو سره د موسیقي دانانو د پاره او

هغه کسان چې موسیقي د هنر په حیث تجزیه او تحلیل کوي ایراد ئې پر سخت کړیدي .

او دغه هنر د تکنیك له مخې دومري قوي شوي دي چې پر هغه باندي انتقاد د چا دوسه

پوره ندي د هند موسیقي د هنري جنبې څخه علاوه نور صورتونه لکه د مذهبي مراسمو آهنګونه او پرارقص فلکور تیاتر هم لري د هند په زړوژبو کې لکه ساسګریت او نور د او پرا

تیاتور رقصونو سلسلې سته هند د موسیقي د آلاتو له مخې بیخي غني دي .

په رهي او بادي ډولنو ویشل کیږي غیر له پیانو څخه چې خاص ردیف لري نور ټوله د موسیقي آلات لري د هند موسیقي په څلور میلادي قرن کې پدې ډول ویشل شوي وه او دغه تقسیم په ټوله دنیا کې په رسمیت پیژندل

شوي وو او د نړۍ موسیقي دانان باندې تربیه کیدل تالا [کوردوپونیک] سوشیرا [اروپونیک] آوانا [ممبرا-

بونیک] ګانا [اتویونیک] هندوستان ډیر زبردست نامي سازنده او غزل ویونکي تراوسه تربیه کړیدي .

د هند د موسیقي متون د ۳۰۰۰ کالو په سیر کښې د موسیقي و دنیا ته بهترین

اسناد او مجموعې تهیه کړیدي کمپوزیشونه او داسې نور آثار چې د سا-ګریت په ژبه کې سته د هند هیڅ

ادبي اثر نسته چې د هند څخه د دې شیانو بحث نه کوي او دغه اشارات دي چې د هغو په واسطه موږ د هند د موسیقي په باره کې معلومات

پیدا کوو .

هند د نړۍ د موسیقي په تاریخ کې لومړي دولت دي چې د وزن سیسټم ئې را ایستلي دي د اروپا ئې

سولفا سیسټم تاریخ د کیدو د ارزوو دوري ته [۹۹۵ څخه بیاتر ۱۰۵۰] میلادي پورې رسیږي اما هندي

وزنونو ته چې د [ساه، ریګا، ماپا دانیسا] د ۳۰۰۰ کالو پورې رسیږي

دا د نبشار په بعضو برخو کې د [نا، را، پاریو، راجاکا] د دې

وزنو څخه دا وزنونه په کښې راغلي دي د هند د موسیقي طرز یوازې ایدالي نه دي په بعضو کې راګونه پکاریږي .

د هغه وخت د هندوستان موسیقي دانان د داسې عالي موسیقي سره ډیره علاقه درلوده

او کوم آثار چې د دوی څخه پاته شویدي دا ادعا ثابتوي د هند

لوی والي او پراخوالي د دې سبب شو چې هند دوه ډوله موسیقي

پیدا کې یوه ته [کارناټک] او بل ته هندوستاني ویل کیږي دغه د واړه تقسیمات د هند د زړې

موسیقي څخه اساس اخلي د هند د موسیقي د ایجاد تاریخ د تصادف په ډول دي .

د عربو، ایران او نوري دنیا

موسیقي دانان د هند د بارو ته را دعوت شویدي چې دغه هنرمندانو خاصه موسیقي هند ته راوړه و د هند د شمالي برخې موسیقي د هند د جنوب

خوا ته نقل شوه او د پردو د سلطې څخه خلاصه شول ځکه نو هغه د هندوستان اصلي موسیقي بلل کیږي .

۱۱ قرن نه وروسته د دې دوو ډولونو د بیلتون څخه استادان د سانګتبایا موسیقي څخه خبرې کوي چې د هندوستان او کارناټک څخه جدا ده هند ۷۲ ډوله موسیقي را وایستل او ۱۲ نیمې پردې ئې جهاني شهرت لري دغه طرز د لمړي ځل د پاره ونکاتاما ګهلمي په ۱۷ قرن کې په تانجور کې چې د هند په جنوب کې دي پیدا کړ سومانا تا د راګاویبوت [۱۶۰۹] مبلا ئې طرز [۹۶۰] پیدا کړ اما د پوره پردې او د نیمې پردې سیسټم د ده په ابتکارا تو شروع کیږي، هند د موسیقي په الوګي ډیر شهرت لري مثلا د وینو آلي د وهلو د پاره یو عالي تخنیک په کار لري چې د ګوتو حرکات په دا ډول ادا کې چې د نړۍ موسیقي دانان ګوته په غاښ ورته نیولي ده د هند د موسیقي

[پاته ئې په ۲۵ مخ کې]

ژباړونکی عبدالهادی (تپاند)

دهند د نقاشی لرغونی هنر

دهند د نقاشی لومړی آثار چی تر اوسه په لاس راغلی دی ډیر ښکلی اثر دی چی د (اجانتا) په غار د مهارا اشترا په ایالت کی واقع دی موجود دی .

دغه نقاشی دلوی بودا د ښکلو مجسمو څخه الهام اخستی دی او په نقاشی کی د بودا مختلف حالات په مختلفو رنګو ښکاره شویدی.

په دغه نقاشی کی دلوی بودا په شاوخوا کی ښایستی ښځی او نران لیدل کیږی.

د اجانتا د هنر لوی والی دادی چی په عین حال کی دیوه پیام حکایت کوی د هنر د نګاه څخه هم کامل دی

په دغه نقاشیو کی دوجود ټول غړی په کامل هنری حس سره ښایسته او په ښکلو رنګو نقاشی شویدی او پردی علاوه د انسان د ژوند مختلف حالات ئی شرح کړیدی.

وړوکی ماشومان د مور په غیږ کی د شیدو خوړلو په حالت، وړوکی دلوبو کولو په حالت، ځلمیان د تفریح تکلیف او علم، د مرګ او داسی نورو حالتو ښکاره شوی دی.

د اجانتا د نقاشی هنر تر زر کاله ډیر د دریمی پیړۍ یعنی د مخه تر مسیح تر اومی میلادی پیړۍ پوری رواج درلود .

چی د ډیرو هیوادو د نقاشیو د سبک څخه الهام اخلی :

د خطوطو هم آهنګی او رنګ آمیزی چی د اجانتا د غار په نقاشیو پوری منحصر دی د افغانستان (بامیان) د غار په نقاشیو په سیلان کی د (سیکی ریا) نقاشی، د تبت او نیپال د پرچم پر مخ نقاشی، په چین کی د (تونج هوانګ) د غار نقاشی، او د بودا د مقدسو اماکنو په معابدو کی په (هوری یوجی) په جاپان کی لیدل کیږی .

که څه هم د اجانتا اطاعت نفوذ د هند په نقاشیو کښی په اومه میلادی پیړی کښی پای ته ورسید مګر دیوالی نقاشی ئی د ۱۹ پیړۍ تر منځنۍ دورې پوری ادامه درلوده .

(پاته ئی په ۲۶ مخ کی)

[د ۲۴ مخ پاته]

د هند موسیقی

بعضی آلی چی په نوره دنیا کی نسته دادی: مریدنکا ګوتو وادبا، ګماناه کنجیره دولاکو مادالا - پنجامکما، وادیا جندا تمیلا ایدا کا د هند ملی رقصونه مخصوصه ښکلالری دغه حرکات او نمایشات د هند د موسیقی د بشپړوالی لوی سبب ګرزیدلی د دې نه علاوه محلی وزنونه د شیدولو شونکو ماڼووانو، چوپانانو، صنعتی کارګرانو آوازونه د هند موسیقی ډیره پراخه کړه هندی موسیقی په تجسم ډیره غنی ده مثلا په مجسمو او نقاشی جوړولو ئی د هند د موسیقی دانانو ادا طرزونه وښودل د همپوما دوراتیرونلولی سوجندرام تریواندروم معبدونه د هند د ملی غرور څخه بلل کیږی او په څلور نازکو لرګیو به ئی د هغو څخه عجب آوازونه کښل .

الکساندر پوشکین

الکساندر پوشکین شاعر اولوی روسی لیکوال په ۱۷۹۹ کی په روسیه کی زیږیدلی دی او په (۱۸۳۷) په پترزبورګ کی په قتل ورسیدی .

دغه روسی آزاد شاعر دیوی اشرافی کورنی څخه و. پوشکین په ۱۸۱۷ کی د روسیی په وزارت خارجه کی په خدمت پیل وکړ درې کاله وروسته په ۱۷۲۰ کی دیوی مجموعی اشعارو په نشر کولو باندی زیات شهرت پیدا کړ .

په دغه کال ئې یوه قصیده د آزادی په باره کی وویل چی دده د لوړ تیا او افتخار سبب شو ده په دی شعر کی په ډیر شجاعت سره ناګفته نکتی پرژبه راوړی پردې ټولو علاوه دی په وزارت خارجه کی مشغول و په ۱۸۲۲ کی د قفقاز ترلیدو وروسته ئې یوه قطعه د «قفقاز محبس» ولیکل، پوشکین په ۱۸۲۴ کی د خپل کار څخه لاس واخیست ځکه د هغه وخت حکومتی مقاماتو ازادی خواهانه افکار مضر ګڼل، پوشکین په دغه کال د خپل پلار جایداد خرڅ کړ پسکوف ته ولاړ او په هغه ځای کی چی ډیر جاویدانه اشعار ئې خلق کړل چی د هغی جملی څخه د [بوریس ګودونف] او [اوژنی اونژین] اثار دی، چی دا کتاب دده د ژوند آخرین سر ګذشت دی .

پوشکین یو منظوم داستان د [سرای د باغچی چینه] وویل چی ډیر اهمیت او شهرت ئې پیدا کړ چی ډیر رنګین او جالب اثر دی او په ۱۸۲۷ کی ئې (لوکیها) ولیکل .

پوشکین په ۱۸۳۱ کی کی دیوی ښځی سره ، (نائیلا) په نامه واده وکړ پوشکین په دی وخت کی د روسیی په دربار کی د (تاریخ نګار) په صفت مشغول شو .

پوشکین په دې دوره کی د [پوکساچف د ښورښ تاریخ] ولیکی د کاپسین د لور د استان هم د تاریخی اثار و څخه دی دغه کتاب دده د منثور و اثار و څخه ظریف ترین کتاب دی که څه هم پوشکین د ۱۸۲۵ کال په ښورښ کی لاس درلود مګر بیا هم د روسیی په وزارت خارجه کی استخدام شو .

پوشکین یو تکړه کاریګر و که څه هم لږ عمر ئې درلودی، ده که څه هم د عیش او وخت تیرولو سره علاقه ډیره درلوده خو بیا هم ئې همیشه لیکل د پوشکین مقام په روسی ادبیاتو کی ډیر لوړ او انکار ناپذیره دی دده ښکلی نمایشنامی منظوم داستانونه ژوندی او جاندار غزلی او نو اثار ئې ټول د روسیی په ادبیاتو کی لوړ مقام لری دی رومانتیک او نوی سبک نه ئې د روسیی د ادبیاتو د پاره وړاندی کړل .

پوشکین په ۳۸ کلنی کی دیوه زخم په واسطه ووژل شو .

د عبدالهادی ژباړه

[د ۲۵ مخ پاته]

د هند نقاشی ...

د دیوالی نقاشیو په وخت کی د کتابو پر مخ خطی نقاشی چی لومړی د خرما د درختی پر برګ او وروسته د کاغذ پر مخ رواج شو او په اتم میلادی پیړی کی یعنی په دیوآری نقاشیو کی چی دالورا په غار کی لیدل کیږی خطونه ئې نازک او ګردی دی او دغه سبک موجب سوچی د کاغذ او د خرما د درختی د برګ پر مخ د ناز کو او ګرد یو خطو د سبک نقاشی په وجود راغله مګر د خطوطو ګردی کیدل یوازی د اسی سبک نه و چی په هغه دوره کی تحول راولی .

د خطی کتابو په دوره کی د [پالا] بنګال د نهمی پیړی څخه تر دولسمی پیړی پوری د اجانتا په غارو کی معمول وه بیرته رواج شول .

د هند د مغلو د دوری او نوی دوری نقاشی سبک به په راتلونکی هفته کی مطالعه کړو .

د دباندنیو منابعونه

د تلیفون په واسطه تدریس

دامریکی په متحده ایالتو کی دهغوزده کوونکو لپاره چی د ناروغی له کبله نشی کولای ښوونځی ته حاضرشی یوه دحل ښه لاره پیدا شویده .

چی دغه دحل لاره تیلفونی تدریس دی دښوونځیو مدیران عقیده لری چی ناروغ زده کونکی باید له خپل درس وروسته پاته نشی په (فلادلفیا) کی [۱۵] زده کونکی چی د ناروغی له کبله په ښوونځی کی سوب یدلای نشوای په دغه ډول درس وایی دغه تلیفونونه د ناروغ د کټ تر څنګه ایښوده شوی دی او هغوی کولای شی چی د پوښتنو جواب د نورو زده کوونکی په واسطه هم اوریدل کیدای شی او دهغه غلطی هم په همدې توګه اصلاح کیږی .

☆☆☆☆☆

موقتی مور

کوم وخت چی یوه مور ناروغه کیږی او یا کومی مسافری ته ځی ، نو دوړ کو پلرونه باید څه وکړی؟

دمیندو «اورژانس» په نامه ډملګرو سرویس

چی دیوه کاله راهیسی دالمان دفرانکفورټ په ښار کی تاسیس شوی دی ، نو موړی سرویس هر وخت چی دماشومانو پلرونه وغواری ، د

ناروغی یا مسافری مور په عوض کی [اورژانس] مور ورلیږی .

دغه اقدام اوس داسی دلچسپ او په زړه پوری

استقبال شوی دی چی اوس داوطلبو میندود فدرالی المان دیوه سره تر بل سره پوری خپل آدرسونه دنو موړی سرویس په واک کښی

ورکړی دی چی پدې ډول نو موړی مرکز په اسانی سره وکولای سی چی د بی موره ماشومانو د پلرونو غوښتنو ته ځواب ووایی .

پورتنی غوښتنی دومره زیاتی شوی دی چی اوس دټوله هیواد په یوه اوبل سرکښی داسی نور مرکزونه د جوړ یدلو په حال کی دی .

په نو موړی مرکز کی دشاملیدو شرط دادی چی داوطلبان باید دپوره اعتماد وړوی او دکور دکار کړینی په چارو کی پوره مهارت ولری

داورژانس دیوې مور دپاره په هفته کی سل مارکه حق الزحمه ټاکل شوی ده .

دښاغلی انورزی ژباړه

د دبانديو منابعونه

د درهٔ نوروال ژباړه

د نړۍ د لويو آبشارو لوړوالی څومره دی؟

اوريدلی به مووی چی د نړۍ لوی آبشار د امريکا د نياګارا آبشار دی. که د نياګارا آبشار د نړۍ د نورو آبشارو سره د لوړوالی په نسبت مقايسه کړو څرګنده به شی چی د نياګارا آبشار نه پرته اولس لوی آبشارونه نور هم شته

د نړۍ مهم ابشارونه :-

د آبشار نوم	موقعيت	لوړوالی په متر
آنجل	د جنوبی امريکا په وينز ويلا کی	لوړوالی ۹۷۸ متره
ګريت فالس	د جنوبی امريکا په لابرادو کی	لوړوالی ۶۱۰ متره
سوترلينډ	د اوقيانوسيه په نيوز لانډ کی	لوړوالی ۵۷۹ متره
يوزميت	د شمالی امريکا په کاليفورنيا کی	لوړوالی ۴۹۰ متره
کاورنی	په فرانسه کی	لوړوالی ۴۲۱ متره
مسيويلو	د افريقا په تانګانيکا کی	لوړوالی ۳۸۹ متره
لونوی	د افريقا په ګانکو کی	لوړوالی ۳۸۴ متره
تاکاکاو	د جنوبی امريکا په کولمبيا کی	لوړوالی ۲۶۶ متره
مستوباچ	د اروپا په سويس کی	لوړوالی ۳۰۵ متره
ديوکان	د اروپا په ناروی کی	لوړوالی ۲۷۱ متره
کايتر	د جنوبی امريکا په کويمان کی	لوړوالی ۲۴۷ متره
مارمور	په اروپا کی د ايټاليا	لوړوالی ۱۶۵ متره
استرلينګ	د اوقانوسيه په نيوزيلانډ کی	لوړوالی ۱۵۳ متره
يلستونی	د شمالی امريکا پی مونتانای کی	لوړوالی ۱۲۲ متره
ويکتوريا	د افريقا په رامبز کی	لوړوالی ۱۲۲ متره
مورکينرون	د افريقا په اوګانډا کی	لوړوالی ۱۲۲ متره

د درهٔ زنګ آبشار چی زموږ د ګران هيواد د فارياب د ولايت د بلچراغ د ؤلسوالی د ګرزيوان په درهٔ زنګ کی لوړوالی ۱۲۰ متره

يکوازو	د جنوبی امريکا په برازيل کی	لوړوالی ۶۴ متره
نياګارا	په شمالی امريکا کی	لوړوالی ۴۹ متره
شانهوز	د اروپا په سويس کی	لوړوالی ۳۱ متره

ادبی نثر

نقاش ته

کله چی دې کاغذ ومخ ته ایږدې اوقلم په خپلو هنرمندو ګوتو کی نیسی اودهغه چاچهره چی بېوزله انسانان له ځانه لیری بولی نقاشی کوې نو په هغه خپله واقعی بڼه ئې نقاشی کړه غوټه غوټه تندی ئې وریـن اوصاف قهرجنی سترګی ئې ښایستی او هغه غاښونه چی دنورو وېرولو ته ئې سره چیچلی وی ښایسته مه رسموه .

هغه سر چی ناتوانو ته ئې جګ نیولی او مقتدرو ته ئې کښته ځړولی وی ښه مه ! یسوه ، مختوری ئې په سپین مخی مه راښکاره کوه !

ستا همیشه دا قاعده وی چی متعرض لاسونه او متعرضه خوله اوبالاخره ګنهکاره قیافه ډېره مؤذونه اوښکلی نقاشی کوی .

نو که هرڅوک په ها خپله واقعی چهره اوواقعی شکل راووینی ددې نتیجه به داوی چی موږ به هرڅوک په خپله بڼه پېژندلی وی اوتا به هم هرڅوک یو واقعی اوحق بین نقاش بولی .

نړۍ هم هرڅه په خپله حقیقی قیافه غواړی اوبیا ئې سبا په ها خپل عین شکل ښکاره کوی .

ته هم سبا ته وګوره اوخپل عمل دی دسبا په هنداره کی لیدلای سی . دسبا هنداره یعنی څه ؟

دسبا هنداره یعنی [خپل عمل دلاری مل]

«[ویران]»

دولایاتو د اطلاعاتو مدیران په وروستی مطبوعاتی سیمینار کی
د کابل د دولتی مطابعو د عصری ودانی په مخ کی د دولتی مطابعو د
رئیس بناغلی محمد ابراهیم کندهاری سره لیدل کیږی
د کابل دولتی مطبعه چی د چاپ په ټولو عصری وسایلو مجهزه
ده سربیره پر یوزیات شمیر جریدو، مجلو، ورځپاڼو،
درسمی ادارو، مؤسسو او انفرادی کسانو هر ډول
فرمایش منی او د دې کار په اړخ کی په
ملیونو کتابونه نور هم په کښی چاپیږی

POSTES KAN

د کندهار دولتی مطبعه